UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

## د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ځانګړی استازی ستفان دی ميستورا بيانيه د افغانستان د رای اچوونی د کارکوونکو د وژنی په اړه

کابل، د سپتمبر د مياشتی ۱۶ نيټه، کال ۲۰۱۰ – ملګري ملتونه د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون د دوه تنو کارکوونکو وژنه چی تيره ورځ د بلخ ولايت په چاربولک ولسوالی کی تر سره شوه، غندي. موږ د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون د مشر پروفيسور فضل احمد معنوی سره د هغی په غندنه کی شريک ياستو چی نن ورځ يی په يو رسنيز کنفرانس کی په کابل کی دا وژنې تاييد کړي.

موږ د زړه له کومی د هغوي کورنيو او دوستانو تسليت وايو، او خپل خواخوږي او يووالی د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون همکارانو ته وړاندی کوو.

هر ډول ګواښ د افغان ټول ټاکنو د چارواکو په وړاندی هم د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټول ټاکنو د شکايتونو د کميسيون په وړاندی د نه منلو وړ دی.

سره د دی ډاروونکی پيښی او نوری هغه د تاوتريخوالو پيښي چی نن يی د ټول ټاکنو د خپلواک کميسيون کارکوونکو او کانديدانو په وړاندی تر سره شوي دي، دا مهمه ده چی د ټول ټاکنو چارواکي خپل کار ته ادامه ورکړي او د افغان وګړو لپاره فرصت برابر کړي تر څو هغوي خپل استازي وټاکي. ملګري ملتونه دی ته ژمن دي چی د وږی د مياشتی د ۲۷ نيټی د ټول ټاکنو څخه ملاتړ وکړي.

Strategic Communication and Spokespersons Unit
United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA)
Kabul, Afghanistan
Tel: 079 000 6121; +39 083 124 6121
http://unama.unmissions.org

Subscribe online to ensure you receive news from UNAMA.